# د کورنو جګړو علاج

پښتو




شیخ طریقت، امیرِ اہلسنّت، بانیِ دعوتِ اسلامی، حضرت علّامہ مولانا ابو بلال

مُحمّد اِلیاس عَطّار قادِری رَضَوی

دامت برکاتہم العالیۃ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَؕ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِؕ

دا مضمون د ”فیضانِ سُنّت“ صفحه 198 تا 220 نه اخستے شوے دے

# د كورنو جګړو علاج

دُعائے عطّار: یا **الله** پاکه! څوک چې دا رساله ”د كورنو جګړو علاج“ اولولي یا واوري، د هغه په کور او روزګار کښې بَرَکتونه واچوې او هغه ته ستا په لاره کښې د خرچ کولو توفیق ورکړې- اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د دُرود شريف فضيلت

د **الله** پاک د خوږ آخري نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: د قیامت په ورځ به د **الله** پاک د عرش [د سَوري] نه سِوا یو سَورے هُم نه وي، درې کسان به د **الله** پاک د عرش په سَوري کښې وي- عرض اوکړے شو: یارَسُولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: هغه به کوم خلق وي؟ اِرشاد ئې اُوفرمائیلو: ﴿۱﴾ هغه کس څوک چې زما د اُمَّتي پریشاني لرې کړي ﴿۲﴾ زما سُنَّت ژوندي کوونکے ﴿۳﴾ په ما باندې کثرت سره دُرُود شریف لوستونکے- (البدور السافرۃ فی امور الاٰخرۃ، ص 131، حدیث: 366)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❀❀❀ صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## په شريكه د خوړلو فضيلت

په یو دسترخوان باندې شریك خوراك كولو والؤ ته دِ مبارك شي ځكه چې د حضرتِ سیّدُنا اَنَس بن مالِك رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہ نه رِوایت دے چې **الله** پاک ته دا خبره د ټولو نه زیاته خوښه ده چې هغه مؤمِن بنده د خپلې ښځې او بچو سره دسترخوان ته ناست په

خوراك اووِيني. ځكه چې كله ټول دسترخوان ته جمع شي نو **الله** پاک هغوئي ته د **رَحمت** په نظر ګوري او د جُدا كيدو نه **مخكښې** مخكښې هغه ټول او**بخښي**.
(تَنبِيه الغافِلِين ص٣٤٣)

## په شريكه طعام خوړلو كښې د معدے عِلاج

د پتھالوجی يو افسر دا خبره معلومه كړي ده چې كله ټول په شريكه خوراك كوي نو د ټولو خوراك كوونكو جراثِيم په خوراك كښې يو ځائے شي او هغه د نورو مَرَضونو جراثِيم وژني او كله كله [د شريك خوراك په وجه] په طعام كښې د **شِفاء** جراثِيم شامِل شي او هغه **د معدے د مَرَضونو** د پاره فائِده مند وي.

## د يو كس خوراك د دوو د پاره كافي دے

**حضرتِ** سيِّدُنا جابِر رضی اللہ عنہ فرمائي چې ما د **نبيِّ كريم رَءُوفٌ رَّحِيم** صلّی اللہ علیہ وآلہ وسلّم نه فرمان اوريدلے دے چې: ”د يو طعام د دوو د پاره كافي دے او د دوو طعام د څلورو د پاره او د څلورو طعام اته [كسانو] ته كفايت كوي. (صحيح مُسلِم ص١١٤٠ حديث ٢٠٥٩)

**د خوږ** خوږ مَدَني آقا صلّی اللہ علیہ وآلہ وسلّم مبارك فرمان دے: د دوو طعام د درې د پاره او د دريو طعام د څلورو د پاره كافي دے. (بُخاری شريف ج٦ ص٣٤٦ حديث٥٣٩٢)

## د قَناعت تعلِيم

**مشهور مُفَسِّر حَكِيمُ الأُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان نعيمي رحمۃُ اللہ علیہ د دې حديثِ پاك لاندې فرمائي: كه طعام كم وي او خوراك كولو والا زيات نو د دوو كسانو په خوراك دِ درې كسان او د درې كسانو په خوراك دِ څلور كسان ګُزاره كوي اګر چې ماړه به پرې نه شي خو د دومره خوراك كولو سره به نه كمزوري كيږي. او عِبادتونه به هم په ښه شان ادا كولے شي. په دې مبارك فرمان كښې د قَناعت [يعني په لږ خيز صبر] او د نورو د لِحاظ او د سخاوت اعلٰى تعليم وركړے شوے دے. (مِراٰة جِلد٦ ص١٦)

# خپله تنخوائې کمه کړه

د حُضورِ اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د **خلیفه حضرتِ** سَيِّدُنا صِدِّيقِ اكبر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د خِلافت د زمانے واقِعه ده چې یو ځل د **حضرتِ** سَیِّدُنا صِدِّيقِ اكبر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ بي بي مُحترمې رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا ته د حلوا خوړلو خواهِش پیدا شو نو صِدِّيقِ اكبر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اوفرمائيل: "زمونږ سره دومره رقم نشته چې په هغې حلوا واخلو." هغې رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا عرض اوکړو چې "زه به د کور د خرچے نه په لږو ورځو کښې لږې لږې پيسے بچت کړم او څه رقم به جمع کړم، په هم هغې به حلوا واخلو." اوئې فرمائيل: هم دغسې اوکړه. نو د هغوئې بي بي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا رقم جمع کول شروع کړل. په یو څو ورځو کښې لږ شان رقم جمع شو. چې کله هغې صِدِّيقِ اكبر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ته [د رقم د جمعَ کیدو] خبره د حلوا د راړلو د پاره اوکړه نو هغوئې رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ هغه رقم يوړو او بيرته ئې بَيتُ المَال کښې ورکړو او اوئې فرمائيل چې دا زمونږه د خرچے نه زيات دے. د هغې نه پس هغوئې رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د آئِنده د پاره د بيتُ المَال نه راتلو والا خپلې وَظِيفے [يعني تنخوا] نه هغه همره رقم کم کړو. (الکامِل فی التاریخ. ج۲ ص۲۷۱)

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د دې حِکایت په اوريدلو باندې صرف د خوشحالیدو او د واه واه د نعرو وهلو په ځائے مونږ ته د تقویٰ او د قَناعت درس حاصلول پکار دي. خُصُوصاً د اقتدار لرونکو او حُکومتي افسرانو او د جُماتونو اِمامانو، د دِيني مدرسو اُستاذانو او د مختِلفو اسلامي شُعبو سره تړلو اسلامي ورونړو د پاره په دې حِکايت کښې د قَناعت [يعني په لږ څيز باندې د صبر] او د خود دارئ او د حِرص او طمعې نه د ځان ساتلو او د خپل آخِرت د بهتر کولو د پاره ډير ډير او ډير زيات د عِبرت سامان دے. کاش! چې مونږه صرف د نفس په راپارَولو باندې د تنخواه د کمئ او زياتئ (يعني د هغه تنخواه دومره زياته او زما دومره کمه) د خبرو په معاملاتو کښې د اخته کيدو په ځائے په لږه آمَدَنئ باندې قَناعت [يعني صبر] کول اِختيار کړو او د نيکو د زيات والي خواهِش مند جوړ شو. د **سَيِّدُنا صِدِّيقِ اكبر** رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د پرهيزګارئ او د دُنياوي دولت نه د بے رغبَتئ [يعني د ډډه کولو] په باره کښې يو بل حِکايت واورئ، چنانچه

## د وَقْف د څيزونو په باره كښې اِحتياط

اِمامِ عالي مقام، حضرتِ سَيِّدُنا اِمام حسن مُجتَبیٰ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: د رسولِ اكرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خليفه حضرتِ سيِّدُنا صِدِّيقِ اكبر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د خپل وفات په وخت كښې اُمُّ المُؤمِنِين حضرتِ سيِّدَتُنَا عائِشه صِدِّيقه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا ته اوفرمائيل، اوګوره! دا اُوښه د كومې چې مونږه پئ څښو او دا غټه پياله چې مونږه پكښې خوراك څښاك كوو او دا څادر چې ما اغوستې دے دا ټول د بيتُ المَال نه اغستے شوي دي. مونږ د دې نه د هغه وخته پورې فائِده اغستے شوه تر څو پورې چې ما د مسلمانانو د خِلافت اُمور كول. چې زه كوم وخت وفات شم نو دا ټول سامان حضرتِ سيِّدُنا عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ ته وركړئ. چې كله حضرتِ سيِّدُنا صِدِّيقِ اكبر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ وفات شو نو اُمُّ المُؤمِنِين حضرتِ سيِّدَتُنَا عائِشه صِدِّيقه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا د وصِيَّت مطابق دا ټول څيزونه بيرته وركړل.

حضرتِ سيِّدُنا عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ (ته چې دا څيزونه بيرته ور اورسيدل نو اوئې) فرمائيل: اللّٰه تَعَالٰی دِ په هغوئې رحم اوفرمائي ولې چې هغوئې د ځان نه پس راتلونكي سترې كړل. (تارِيخُ الخُلَفاء ص ٦٠)

## د خوراك كوونكي د بخښنې يو صُورت

هر يو د شان لائِق كار شروع كولو نه مخكښې بِسْمِ اللّٰه شريف ضرور لوستل پكار دي ځكه چې دا سُنّت دي او د دې ډير بَرَكتونه دي. چنانچه د حضرتِ سَيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه رِوايت دے چې مَكِّي مَدَني سُلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: "د اِنسان مخې ته طعام كيښودے شي او د [بيرته] اوچتولو نه مخكښې د هغه بخښنه اوكړے شي، د دې طريقه دا ده چې كله [طعام] كيښودے شي نو بِسْمِ اللّٰه دِ اووائي او چې كله اوچتولے كيږي نو اَلْحَمْدُ لِلّٰه دِ اووائي." الجامعُ الصغير ص ١٢٢ حديث ١٩٧٤

## په ميز او کُرسئ باندې طعام خوړل سُنَّت نه دي

په صحيح بُخاری کښې د حضرتِ سَيِّدُنا اَنَس رضی اللہ عنہ نه رِوايت دے: نبئِ آخِرُ الزَّمان صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم نه په خوان (يعني ميز) باندې طعام خوړلے دے او نه ئې په وړو وړو پيالو کښې خوړلے دے او نه د هغوئې صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم د پاره نَرَئ نَرَئ ډوډئ پخې کړے شوي دي. د حضرتِ سَيِّدُنا قَتاده رضی اللہ عنہ نه چې کله تپوس اوکړے شو چې هُغه حَضَراتو به په څه [څيز د پاسه] خوراك کولو؟ اوئې فرمائيل: په دسترخوان باندې. (صحيح البُخاری ج٣ ص٥٣٢ حديث٥٤١٥)

## صَدرُ الشَّرِيعه رحمۃ اللہ تعالٰی علیہ فرمائي

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** په ميز کُرسئ باندې خوراك کول اګر چې ګناه نه ده خو سُنَّت هم نه دي. صَدرُ الشَّرِيعه، حضرت مولانا مُفتي مُحمد امجد علي اعظمي رحمۃ اللہ تعالٰی علیہ د بهارِ شريعت په شپاړسمه حِصّه کښې فرمائي: "خوان د تيپائ (يا ميز) په شان اوچت څيز وي او په هغې باندې مالدارانو خلقو کره طعام ايښودے شي، د دې د پاره چې د خوراك په وخت کښې سر ټيټول نه غواړي، په هغې باندې خوراك کول د مُتَکَبِّرينو [يعني د کبرژنو خلقو] طريقه وه، څنګه چې بعضې خلق په ميز باندې خوراك کوي، په وړو وړو پيالو کښې خوراك کول د اُمَرا [يعني مالدارانو] طريقه ده، د هغوئې کره مختلِف قِسمه خوراکونه په وړو وړو پيالو کښې اچولے کيږي.

(بهارِ شريعت ج٣ حِصّه ١٦ ص٣٦٩)

## کوم يو دسترخوان سُنَّت دے؟

مشهور مُفَسِّر حَکِيمُ الأُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان نعيمي رحمۃ اللہ تعالٰی علیہ فرمائي: "سُنَّت دا دي چې د طعام طرف ته لږ شان ټِيټ کښيني. **دسترخوان به د کپړے يا د څرمني يا د کجورو د پاڼو وو.** دې درې قِسمه دسترخوانونو باندې حُضُور صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم طعام خوړلے دے، دسترخوان به هم په زمکه لاندې خوريدو او پخپله حُضُورِ اقدس صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم به هم په زمکه باندې تشريف فرما کيدلو." (مِراٰة ج٦ ص١٣)

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! په میز او کُرسۍ طعام خوړل اګر چې ګناه نه ده خو په زمکه په دسترخوان باندې خوړل سُنّت دي، او په سُنّت کښې عَظَمت دے. افسوس نن صبا مسلمانانو د کافي حَده پورې دا سُنَّت پریښودے دے، په مَذهبي کورنو کښې هم اوس په میز او کُرسۍ باندې د طعام خوړلو رواج دے. په وَدُونو کښې هم په میز او کُرسۍ باندې، بلکه اوس خو کُرسۍ هم لرې کړے شوي دي، خلق د میز نه ګیر چاپیره تاویږي او په روانه خوراك کوي. آه! د سُنَّتو ډك هغه دَوَر به بیا کله راځي!

سنّتیں عام کریں دین کا ہم کام کریں
نیک ہو جائیں مسلمان مدینے والے
چې کوو د دِین کارونه او عام کړو سُنَّتونه
اوکړې نظر چې شي نیك مسلمانان، یا نبي

## په هره نوَړۍ د الله ذِکر

د حضرتِ سیِّدُنا اَنَس رضی اللہ عنہ نه رِوایت دے، الله پاک د هغه بنده نه راضي کیږي چې کله نوَړې خوري نو په هغې باندې د الله پاک حَمْدُ کوي او چې اوبه څښي نو په هغې باندې د هغه حَمْدُ کوي. (صحیح مُسلِم ص۱٤٦٣ الحدیث ۲۷۳٤)

## په هره نُوَړۍ باندې د لوستلو طریقه

سُبحٰنَ الله! د الله تعالٰی د رضا موندلو څومره آسانه نُسخه ده. قَسَم په خدائے! د الله پاك د رضا نه بل اوچت سعادت نشته. د چا نه چې هغه راضي وي هُم هغه ته به خپل دِیدار نصیب کوي، هُم هغه به جَنَّتُ الفِردوس ته داخِلوي. په هره نوَړۍ خوړلو او په هر ګُوټ څښلو د الله پاک د نوم اغستو او د نوَړۍ خوړلو او د ګُوټ څښلو نه پس د اَلْحَمْدُ لِلّٰه وئیلو د عادت جوړولو کوشش کوئ چې د خوراك څښاك وخت هم په غفلت کښې نه تیریږي. که کیدے شي نو د هرو دوو نوَړو په مینځ کښې د اَلْحَمْدُ لِلّٰه، یَاوَاجِدُ او بِسْمِ الله وئیلو عادت جوړ کړئ نو دغسې به هره نوَړۍ د بِسْمِ الله او د یَا وَاجِدُ د ذِکر نه شروع کیږي او په حَمْد به ختمیږي، نو اِنْ شَآءَالله د نیکو انبارونه او د

ثواب انوار به حاصليږي. د مَكتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوي د جيبي سائِز رِسالے **خلويښت روحاني عِلاج** په صفحه ۱۱ [1] کښې دي. خوك چې د طعام په هره نوړئ يَاوَاجِدُ لولي. اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ هغه خوراك به د هغه په خيټه کښې نُور جوړ شي او مَرَضونه به ئې لرې كيږي.

کر اُلفت میں اپنی فنا یا الٰہی　　عطا کر دے اپنی رِضا یا الٰہی

کړې مې ستا محبّت کښې فنا يَا اِلٰهی　　را عطا كړې ستا رضا يَا اِلٰهی

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د سُنَّتو د تربِيَّت د پاره **عاشقانِ رسول** سره د **دعوتِ اسلامي** مَدَني قافلو کښې د سفر ترکيب جوړوئ، اِنْ شَآءَاللّٰه عَمَلي طور به مو د طعام خوړلو د سُنّتو نه ډك تربِيَّت کيږي او اِنْ شَآءَاللّٰه کله خو به درته داسې طعام نصيب شي چې په مزو به مو سر شي چنانچه د اسلامي ورونړو سره پيښېدونکې **مَدَني واقِعه** په خپل انداز کښې د وړاندې کولو کوشش کووم.

## د داتا صاحِب رَحۡمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡه له طرفه د مَدَني قافلے ميلمستيا

**زمونږه مَدَني قافِله** په مرکزُ الاولياء لاهور کښې د **داتا صاحِب** رَحۡمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡه د **درباره** جُمات کښې د درې ورځو د پاره موجوده وه. مونږ د مَدَني قافِلے د جَدوَل مطابق د سُنّتو تربِيَّت حاصلولو کښې مصروف وو، د حلقے په دوران کښې يو صاحِب تشريف راوړو، هغوئي د عاشقانِ رسول سره په ډير **محبّت** ملاقات اوکړو بيا ئې اووئيل: اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ! نن شپه زما د قِسمت ستورې روښانه شو او **حضرت داتا علی هجويری** رَحۡمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡه زما ګنهګار په خوب کښې تشريف راوړو او خه داسې ئې را ته اوفرمائيل: د **دعوتِ اسلامي** د مَدَني قافلے والا عاشقانِ رسول د درې ورځو د پاره زما جُمات ته راغلي دي

[1] دا د ۲۱ صفحو د رحمتونو او بَرَکتونو نه ډکه رِساله د مکتبةُ المَدينه د يو شاخ نه هديةً طلب کړئ. **مجلس مکتبةُ المَدينه**

لِهٰذا ته د هغوئي د پاره د طعام انتِظام اوکړه.“ لِهٰذا ما د مَدَني قافِلے والؤ د ميلمستيا د پاره طعام راوړے دے تاسو ئې قبول کړئ.

کیا غرض در در پھروں میں بھیک لینے کیلئے
ہے سلامت آستانہ آپکا داتا پیا
جھولیاں بھر بھر کے لے جاتے ہیں منگتے رات دن
ہو مری امید کا گلشن ہرا داتا پیا

څه غَرَض چې غواړمه خيرات زه په در در
آستانه چې شته ستا داتا صاحِب
شپه او ورځ غوښتونکي ورې ځولئ ډکې
کړئ پوره اُمِّيد زما داتا صاحِب

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## صاحِبِ مزار ئې مدد اوکړو

سُبْحٰنَ الله ! اولِياءِ کِرام رَحِمَهُمُ اللّٰہُ تَعَالٰی په خپلو مزاراتو کښې د اوسيدو باوجود هم د خپلو ميلمنو ميلمستيا فرمائي: چنانچه حُجَّةُ الْاِسلام اِمام محمّد غزالي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡه څه داسې نقل کوي چې د مَکَّهٔ مُکَرَّمه د يو شافِعي منجَوَر وينا ده، چې په مِصر کښې د يو غريب کس په کور کښې ماشوم پيدا شو هغه د يو سماجي خدمت ګار سره رابطه اوکړه، هغه د ځان سره هغه د ماشوم پلار په ډيرو کسانو اوګرځولو خو هيڅ چا هم د هغه مالي امداد اُو نه کړو. آخِر دا چې يو مزار ته حاضِر شو او هغه سماجي خِدمتګار څه داسې فرياد اوکړو، ”يا سَيِّدی! الله پاک دِ په تاسو رحم اوفرمائي، تاسو به په خپل ظاهري ژوند کښې ډيره ورکړه کوله، نن مې د ډيرو خلقو نه د يو نوي پيدا شوي ماشوم د پاره غوښتنه اوکړه خو چا هيڅ هم را نه کړل.“ د دې وئيلو نه پس هغه سماجي خِدمتګار د خپل طرف نه نيم دِينار د هغه ماشوم پلار ته قرض ورکړو او ورته ئې اووئيل: ”چې کله ستاسو لاس له څه پيسے راغلې نو بيا ئې ما ته بيرته راکړئ.“ او دواړه په خپله خپله لار روان شو، هغه سماجي خِدمتګار د شپے په خوب کښې د هغه مزار د بُزُرګ ديدار اوکړو، ورته اوئې فرمائيل: تا چې ما ته څه وئيلي وو هغه ما اوريدلي وو خو هغه وخت د جواب ورکولو اِجازت نه وو، لاړ شئ او زما د کور کسانو ته اووائې چې د انګيټۍ [يعني نغَرې] نه لاندې ځائے را اوکنئ، يو مَشك به را اوخيژي او په هغې کښې به پينځه سوه دِيناره وي هغه ټول رقم د هغه ماشوم پلار ته ورلاندې کړئ.“

هغه د هغه بُزرګ د کور د کسانو خوا ته ورغلو او ټوله قِصَّه ئې ورته اوکړه، هغوئي هغه ښودلے ځائے را اوکنستو نو پينځه سوه دِيناره را اوختل او هغه ته ئې ورکړل، هغه سماجي خِدمتګار د هغه کور کسانو ته اووئيل چې دا ټول رقم ستاسو دے، زما د خوب څه اعتِبار دے! **هغوئي اووئيل: چې زمونږه بُزُرګ د دُنيا نه د پرده کولو نه پس هم سخاوت کوي نو مونږ به ولې اسره کوو!** او هغوئي هغه دِينارُونه په ډيرو زارو هغه سماجي خِدمتګار ته ورکړل، هغه لاړو او هغه دِينارونه ئې د هغه ماشوم پلار ته وړاندې کړل. هُغه غريب کس په **نِيم دِينار** باندې خپل قرض خلاص کړو او **نِيم دِينار** ئې د ځان سره کيښودو او اوئې وئيل چې زما د پاره هم دا کافي دے." باقي ټول ئې هم هغه سماجي خِدمتګار ته ورکړل او ورته اوئې وئيل چې باقي ټول دِينارونه په غريبانو او بے اَسره خلقو باندې تقسيم کړئ، روايت کوونکے وائي چې زه نه پوهيږم چې په دې ټولو کښې زيات سخي څوك دے. (احياءُ عُلومُ الدِّين ،ج۳،ص۳۰۹) **د الله پاک دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.**

خالی کبھی پھیرا ہی نہیں اپنے گدا کو | اے سائلو مانگو تو ذرا ہاتھ بڑھا کر
خود اپنے بھکاری کی بھرا کرتے ہیں جھولی | خود کہتے ہیں یاربّ! مِرے منگتا کا بھلا کر
کله نه ليږي سوالګر هغوئي تش لاس | لاس خواره کړه سوال د پاره اے سوالي
ځولۍ ورډکوي هغوئي سوالګر ته | او وائي يا الله! ته کور آباد کړې د سوالي

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## اولياء د وفات نه پس هم فائِده رَسَوي

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! ځوانو خلقو به د بُزُرګانو په باره کښې خومره ښه عقيده لرله او د ضرورت په وخت کښې به ئې د هغوئي نه د خپلو حاجتونو سوال کولو. د هغوئي دا سوچ جوړ شوے وو چې **الله** والا د **الله** پاک په ورکړه مدد کوي. بهرحال اولياءُ الله رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی د اللهتَعَالٰی په کرم په خپلو قبرونو کښې ژوندي وي، د تلونکو راتلونکو خلقو خبرې اوري، لار ښودنه او اِمداد کوي او د خپلو کوروونو د

مُعامَلاتو خبر هم لري، څکه خو د هغه مزار بُزُرګ رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعالٰی عَلَیْہ د هغه سماجي خِدمتګار په خوب کښې تشريف راوړو او هغه ته ئي لار اوښودله او د هغه ماشوم د غريب پلار حاجت ئي پوره کړو او د هغه مالي اِمداد ئي اوکړو. **حضرتِ** عَلّامه اِبنِ عابِدِين شامي رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعالٰی عَلَیْہ فرمائي: اولِياءُالله رَحِمَہُمُ اللّٰہُ تَعالٰی د **الله** پاک په بارګاه کښې مختلِف درجات لري او زيارت کوونکو ته د خپل عِلم او فَضَل او طاقت مطابق خير رسوي. (رَدُّالمُحتار ج۱ص۶۰٤)

ہم کو سارے اولیا سے پیار ہے　　ان شاءَاللہ اپنا بیڑا پار ہے

هر ولي سره لرو مونږ محبّت　　زمونږ بيړئ به پوريوَځي په راحَت

## کوم خوراك بيماري ده

د **حضرتِ** سَيِّدُنا عُقبه بِن عامِر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه رِوايت دے چې د **الله** پاک د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مبارك فرمان دے: "په کوم خوراك چې د **الله** پاک نوم نه وي اخستے شوے هغه **بيماري** ده او په هغې کښې بَرَکت نشته او د هغې کَفّاره دا ده چې که لا تر اوسه دسترخوان نه وي اوچت کړے شوے نو بِسْمِ الله دِ اووائي او څه دِ اوخوري او که دسترخوان اوچت کړے شوے وي نو بِسْمِ الله دِ اووائي او ګوتې دِ اوڅټي."

(الجامِعُ الصَّغِير ص۳۹٤ حديث۶۳۲۷)

## د شيطان د پاره خوراك حلال

**حضرتِ** سيِّدُنا حُذَيفه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ رِوايت کوي چې د مدينے تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: "په کوم طعام چې بِسْمِ الله اُو نه وئيله شي هغه طعام د شيطان د پاره حلال شي." (يعني د بِسْمِ الله نه وئيلو په وجه شيطان په هغه طعام کښې شريك شي)

(صحيح مُسلِم ص ۱۱۱۶ حديث۲۰۱۷)

## طعام د شيطان نه بچ کړئ

د **طعام** نه مخکښې د بِسْمِ الله نه وئيلو په وجه په طعام کښې بے بَرَکتي راځي. حضرتِ سيِّدُنا ابُو اَيُّوب اَنصاري رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: "مونږ د تاجدارِ رِسالت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمتِ اقدس کښې حاضِر وو. طعام وړاندې کړے شو، په شروع کښې دومره

بَرَکت مونږه په بل طعام کښې نه وو لیدلے خو په آخِره کښې مو ډېره بے بَرَکتي اولیدله. مونږه عرض اوکړو: یَارَسُولَاللّٰه صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! داسې ولې اوشو؟" ارشاد ئې اوفرمائیلو: "مونږ تولو د طعام خوړلو په وخت کښې بِسۡمِ الله وئیلي وه، بیا یو کس د بِسۡمِ الله لوستلو نه بغیر طعام ته کښیناستو، هغه سره شیطان طعام اوخوړو."
(شَرۡحُ السُّنَّة ج٦ ص٦٢ حدیث٢٨١٨)

## د شیطان نه حِفاظت

حضرتِ سیِّدُنا سَلمان فارسي رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ رِوایت کوي چې رَحمَتِ عالَم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائیلو: "د چا چې دا خبره خوښه وي چې شیطان د هغه کره نه طعام اوخوري او نه [د هغه کره] قیلوله [یعنی د غرمے آرام] اوکړي او نه شپه تیره کړي نو هغه ته پکار ده چې کله کور ته داخِل شي نو سلام دِ کوي او د طعام د پاره دِ بِسۡمِ الله لولي." (مَجۡمَعُ الزوائد ج٨ ص٧٧، حدیث١٢٧٧٣)

## د کورنو جګړو عِلاج

مشهور مُفَسِّر حَکِیمُ الۡاُمَّت حضرت مُفتي احمد یار خان نعیمي رَحۡمَۃُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیۡه فرمائي: "کورته د ننوتلوپه وخت کښې بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم لوستلو سره مُحکښې ښئ ښپه په دروازه کښې دننه کول پکار دي، بیا د کور کسانو ته سلام اوکړئ او کور ته دننه داخِل شئ. که په کور کښې څوك نه وي نو اَلسَّلَامُ عَلَیۡكَ اَیُّهَا النَّبِیُّ وَرَحۡمَةُ اللهِ وَبَرَکَاتُهٗ اُووائے. بعضې بُزرګان لیدلي شوي دي چې هغوئي د ورځې په شروع کښې کور ته د ننوتلو په وخت کښې بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم او قُلۡ هُوَ الله [پوره سورت] لوَلي، ځکه چې د دې په بَرَکت په کور کښې اتِّفاق هم وي (یعني جنګ جګړې نه کیږي) او په روزۍ کښې بَرَکت هم کیږي." (مِراٰة ج٦ ص٩)

## که بِسۡمِ الله لوستل هير شي نو څه اوکړي

اُمُّ المُؤمِنِين حضرتِ سيّدَتُنَا عائِشه صِدِّيقه رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا فرمائي چې تاجدارِ مدينه صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: "چې کله څوك طعام خوري نو د الله پاک نوم دِ واخلي. يعني بِسۡمِ الله دِ اووائي او که په شروع کښې ترينه بِسۡمِ الله وئيل هير شي نو داسې دِ اووائي، "بِسۡمِ اللهِ اَوَّلَهٗ وَاٰخِرَهٗ." (اَبُوداؤد شريف ج۳ ص۴۸۷ حديث۳۷۶۷)

## شيطان خوراك اوګرځولو!

حضرتِ سيّدُنا اُمَيَّه بِن مخشي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فرمائي: يو کس د بِسۡمِ الله لوستلو نه بغير طعام خوړلو، چې کله ئې اوخوړلو او صرف يوه نوړئ پاتې شوه نو هغه اووئيل: "بِسۡمِ اللهِ اَوَّلَهٗ وَ اٰخِرَهٗ. تاجدارِ مدينه صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مُسکے شو او دا ارشاد ئې اوفرمائيلو: شيطان د ده سره طعام خوړلو چې کله ده د الله پاک نوم ياد کړو نو څه چې د هغه په خيټه کښې وو را اوئې ګرځوَل." (اَبُوداؤد شريف ج۳ ص۴۸۸ حديث۳۷۶۸)

## د مُصطفىٰ ﷺ د نظر نه هيڅ هم پټ نه دي

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! چې کله هم طعام خورئ نو بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم لوَستل ياد ساتل پکار دي. څوك ئې چې نه لوَلي نو د هغه "قَرِين" نومې شيطان هم د هغه سره په خوراك کښې شريك کيږي. د سيّدُنا اُمَيَّه بِن مخشی رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د دې رِوايت نه صفا ظاهِره ده چې زمونږه د خوږ مَدَني مُصطفىٰ صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مبارکو سترګو به هر څه ليدل ځکه خو ئې چې کله شيطان د وارخطائي په حالت کښې په ګرځُون [يعنې اُلټو] کولو اوليدو نو مُسکے شو، چنانچه مشهور مُفَسِّر حَکِيمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیۡہِ فرمائي: "د رَحمتِ عالَم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مُقَدَّسې سترګې په حقيقت کښې پټ مخلوق هم ويني، او حديثِ مبارکه بالکل په خپله ظاهره معنىٰ دے د هيڅ تاوِيل ضرورت نشته، او څنګه چې زمونږه خيټه د مچ والا خوراك نه قبلوي هم دغسې د شيطان معده د بِسۡمِ الله والا خوراك نه شي هضمَولے. اګر چې د هغه

ګرځولے [يعني اُلټئ کړے] خوراك زمونږ په كار نه راځي، خو مَردُود بيمار شي او اُوړے هم پاتې شي او زمونږه د طعام تلے بَرَکت بيرته راشي، غَرَض دا چې په دې کښې زمونږه فائِده ده او د شيطان پکښې دوه نُقصانونه دي، او کيدے شي چې هغه مردود آئِنده د بِسۡمِ الله نه بغير والا طعام هم زمونږ سره د دې يَرې هم نه خوري چې شائِد دے بيا په مينځ کښې بِسۡمِ الله اولولي او زه بيا په ګرځولو [يعني اُلټئ کولو] مجبوره شم. په حديثِ پاك کښې چې د کوم سړي ذِکر دے غالِباً چې هغه يواځې طعام خوړلو، که د حُضُورِ اَکرم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره ئې خوړلے نو بِسۡمِ الله به ترينه نه هيريدلے ځکه چې هلته خو به حاضرو خلقو په اوچت آواز بِسۡمِ الله لوستله او ملګرو ته به ئې هُم د بِسۡمِ الله وئيلو حُکم کولو. مِراٰة شرح مِشکوٰة ج٦ ص٣٠

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! د دعوتِ اسلامي مَدَني ماحول کښې او خاص طور په مَدَني قافِلو کښې د ډيرو ډيرو دُعاګانو لوستلو او يادولو موقعے نصيب کيږي، د دعوتِ اسلامي د مَدَني سپرلو به څه وائے! د کراچۍ د يو اسلامي ورور بيان په خپل انداز کښې د وړاندې کولو سعادت حاصلووم.

## مور مې د کټ نه راپاڅيدله!

زما والِده صاحِبه د سختې بيمارۍ په وجه د کټ نه هم نه شوه پاڅيدلے او ډاکټرانو هم جواب راکړے وو، ما اوريدلي وو چې عاشقانِ رسول سره د دعوتِ اسلامي د سُنَّتو د تربِيَّت په مَدَني قافلو کښې د سفر کولو په بَرَکت دعاګانې قبليږي او بيمارۍ لرې کيږي. ما هم زړه اوکړو او د دعوتِ اسلامي نُور وَرَوونکي عالَمي مَدَني مرکز فيضانِ مدينه "مَدَني تربِيَّت ګاه" ته حاضِر شوم او د درې ورځو د پاره مې په مَدَني قافِله کښې د سفر کولو اِراده ظاهره کړه، اسلامي ورونړو زما سره د ډيرې مهربانۍ او احترام سلوك اوکړو، د عاشقانِ رَسُول په ملګرتيا کښې زمونږه مَدَني قافِله د بابُ الاسلام سِندھ [کراچۍ] د صحرائے مدينه سره خوا ته يو کلي ته اورسيدله، د سفر په دوران کښې ما عاشقانِ رسول ته د خپلې مور د سختې بيمارۍ حال بيان کړو او د

دُعا درخواست مې ورته اوکړو، هغوئي زما د والده صاحِبه د پاره ډيرې ډيرې دعاګانې اوکړې او ما ته ئې ډيره تسلّي راکړه، اَميرِ قافِله په ډيره نرمئ سره په ما باندې **اِنفرادي کوشش** اوکړو او زه ئې نور د يوے مياشتې **مَدَني قافِله** کښې سفر کولو ته تيار کړم، ما نِيَّت اوکړو، ما د مور صاحبې د صِحَّت د ښه کيدو د پاره ډيرې ډيرې دعاګانې اوکړې، د درې ورځو د دې مَدَني قافِلے په **دريمه** شپه په خوب کښې ما د يو روښانه مخ والا **بُزُرګ** اوليدلو، هغوئي را ته اوفرمائيل: "د خپلې مور فِکر مه کوه.اِنْ شَآءَاللّٰه هغه به ښه شي." د درې ورځو د مَدَني قافلے نه بيرته کور ته راغلم او دروازه مې اوډبوله، **چې دروازه بيرته شوه نو زه حيران پاتې شوم، ځکه چې زما هُغه بيماره مور چې د کټ نه هم نه شوه راپاځيدلے، هغه پخپله دروازے پورې راغلې وه او دروازه ئې را ته بيرته کړه!** ما د ډيرې خوشحالئ نه د مور ښپے ښکل کړې او په مَدَني قافِله کښې ليدلے خوب مې ورته بيان کړو. بيا مې د مور نه اِجازت واغستو او د يوے مياشتې د پاره **عاشقانِ رسول** سره د **مَدَني قافِلے** په سفر روان شوم.

ماں جو بیمار ہو قرض کا بار ہو　　رنج و غم مت کریں قافلے میں چلو
ربّ کے در پر جُھکیں التجائیں کریں　　بابِ رحمت کھلیں قافلے میں چلو
دل کی کالک دُھلے مرضِ عصیاں ٹلے　　آؤ سب چل پڑیں قافلے میں چلو

که بيماره مو وي مور، هم د قرض وي ډير زور
هيڅ غم فِکر مه کوئ، قافلو کښې لاړ شئ
اوکړئ ډير عبادتونه، او ښه ډير سوالونه
ډير به اوشي رحمتونه، قافلو کښې لاړ شئ
پاك به شي د زړه زنګونه ، هم به لرې ګناهونه
ځئ چې ټول سفر کوونه، قافلو کښې لاړ شئ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامي وروڼړو! تاسو اوليده! چې په مَدَنی قافِله کښې د سفر په دوران کښې د دُعا کولو په بَرَکت د اسلامي وررور د عِلاج نه مايوسه شوې مور ته شِفا نصيب

شوه. دُعا آخِر دُعا وي. د اَمِيرُالمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدُنا عَلِيُّ الْمُرتَضیٰ رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه رِوايت دے چې مَکِّي مَدَني سرکار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے:

اَلدُّعَاءُ سِلَاحُ الْمُؤْمِنِ، وَعِمَادُ الدِّيْنِ، وَنُوْرُ السَّمٰوَاتِ وَالْاَرْضِ

(مُسنَد اَبِي يَعْلٰی ج١ ص٢١٥ حديث٤٣٥)

يعنى "دُعا د مُؤمِن وسله ده او د دين ستن ده او د زمکې او آسمان نُور دے." راځئ چې ورسره ورسره د دُعا د مَدَني ګُلونو نه د خپلو زړونو خوشبوداره مَدَني ګلدستے جوړې کړو.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د دُعا کولو وولّس مَدَني ګلونه

(تقريباً ټول مَدَني ګلونه د اَحْسَنُ الْوِعَاءِ لِاٰدَابِ الدُّعَاءِ مَعَ شَرْحِ ذَيْلُ الْمُدَّعَا لِاَحْسَنِ الْوِعَاء
مطبوعه مکتبةُ المَدينه کراچۍ نه اخستې شوي دي)

﴿١﴾ هره ورځ تقريباً شل ځله دُعا کول واجِب دي، اَلْحَمْدُ لِلّٰه د لمونځ ګُزارو دا واجِب، په لمانځه کښې د سُورةُالفَاتِحه د لوستلو سره پوره کيږي، ځکه چې اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ ۙ (مفهوم ترجمۂ کنزُالاِيمان: مونږه په سمه لار روان کړې) هم دُعا ده او اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۙ (مفهوم ترجمۂ کنزُالاِيمان: ټول ثناء صِفَت الله لره، چې مالِك دے د ټول جهان والؤ) وئيل هم دُعا ده. (ص١٢٣، ١٢٤) ﴿٢﴾ په دُعا کښې دِ د حد نه نه اوړي مَثَلاً د انبياءِ کِرام مرتبه غوښتل او يا آسمان ته د ختلو خواهِش کول، او د دواړو جهانو ټولې ښيګړې او ټول صِفَتونه غوښتل هم منع دي ځکه چې په دې ښيګړو کښې د انبياءِ کِرامو (عَلَيهِمُ الصَّلوٰةُوَالسَّلام) مرتبے هم شاملې دي او هغه نه شي ورکول کيدے. (ص٨٠، ٨١) ﴿٣﴾ څه چې مُحال (يعنې نه شي کيدے) يا مُحال ته نِزدے وي د هغې دُعا دِ نه کوي، لِهٰذا د هميشه د پاره تندرُستي او خيريت غوښتل چې بنده دِ ټول عُمر کله هم په هيڅ قِسمه تکليف کښې نه پريوځي دا د مُحالِ عادي دُعا کول دي [يعنې د هغه خيز دُعا کول دي چې هغه عادتاً ناممکنه وي]. هم دغسې د اوچتې ونې [يعنې قَد] والا انسان د پاره د وړې ونې دُعا کول او د وړې سترګې والا د پاره د غټې سترګې دُعا کول منع دي ځکه چې دا د يو داسې

امر [د بدليدو] دُعا ده چې په هغې قلم جاري شوے دے. (ص۸۱) ﴿٤﴾ د ګناه دُعا دِ نه کوي چې ما ته دِ پردَے مال راکړے شي ځکه چې د ګناه غوښتل هم ګناه ده.(ص۸۲)﴿٥﴾ د قطعِ رِحم (مَثَلًا چې د فلانکي فلانکي خپلوانو دِ په خپل مينځ کښې کور وران شي داسې) دُعا دِ نه کوي. (ص۸۲) ﴿٦﴾ د الله پاک نه دِ صرف سپك [يعني کمزورے څيز] نه غواړي ځکه چې الله پاک غني دے بلکه خپله تولہ تَوَجُّه دِ د هغه طرف ته ساتي او د هر څيز سوال دِ هُم د هغه نه کوي (ص۸٤) ﴿٧﴾ د غم او مُصِيبَت نه د پريشانئ په وجه دِ د خپل مرګ دُعا نه کوي ځکه چې د دُنياوي نُقصان نه د بچ کيدو د پاره د مرګ سوال کول ناجائِزه دي اود دِيني نُقصان نه د بچ کيدود پاره جائِز دي. (ص۸۵.۸۷) ﴿٨﴾ د شرعي ضرورت نه بغير دِ د چا د مرګ او بربادئ سوال نه کوي البتّه که د يو کافِر د اِيمان نه راوړو يقين يا غالِب ګُمان وي او د هغه د ژوندي اوسيدو په وجه دين ته نُقصان رسي يا د يو ظالِم نه د توبه کولو او ظُلم پريښودو اُمِّيد نه وي او د هغه مړ کيدل او تباه کيدل د مخلوق په حقّ کښې بهتر وي نو د داسې کس د پاره ښيرے کول صحيح دي. (ص ۸۹.۸٦) ﴿٩﴾ يو مسلمان ته دِ هم دا ښيرے نه کوي چې "ته دِ کافِر شے" ځکه چې د بعضې عُلماؤ په نِزد (داسې ښيرے کول) کُفر دے او تحقيق دا دے چې که کُفر ښه ګڼړي يا اسلام بد ګڼړي او داسې وائي نو بيشکه کُفر دے ګنې غټه ګناه ده ځکه چې د مسلمان بد غوښتل حرام دي، خصوصاً دا بد غوښتل (چې د فلانکي اِيمان دِ برباد شي دا) خو د ټولو بدو غوښتولو نه بد تر دي. (ص۹۰) ﴿١٠﴾ په يو مسلمان دِ هم لعنت نه کوي او مردود او مَلعُون [يعني لعنتي] دِ ورته نه وائي او کوم کافِر چې يقيني طور په کُفر باندې نه وي مړ، په هغه دِ هُم د هغه د نوم اغستو سره لعنت نه کوي، هم دغسې په ماشي، هواء، بے ساه څيزونو (مَثَلًا کاڼړے، اوسپنه وغيره) او په ځناورو [يعني خاروو] لعنت کول منع دي، البتّه په لړم وغيره او بعضې ځناورو باندې په حديثِ پاك کښې لعنت راغلے دے.(ص۹۰) ﴿١١﴾ يو مسلمان ته دِ هم داسې ښيرے نه کوي چې "په تا دِ د خدائے پاک غضب نازل شي او ته دِ اور يا دوزخ ته داخِل شے" ځکه چې په حديث

شريف کښېي د دې منع راغلې ده. (ص۱۰۰) ﴿۱۲﴾ څوك چې کافِر مړ شو د هغه د پاره د بخښنې دُعا کول حرام او کُفر دے. (ص۱۰۱) ﴿۱۳﴾ دا دُعا کول چې ''يا الله پاکه! د ټولو مسلمانانو ټول ګناهونه معاف کړې.'' جائِز نه دي ځکه چې په دې کښېي د هغه حديثونو تکذِيب (يعني دروغ ګڼړل) راځي چې په هغې کښېي د بعضې مسلمانانو دوزخ ته تلل راغلي دي. (ص۱۰۶) البتّه داسې دُعا کول [يا الله] ''د ټول اُمَّتِ محمّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم بخښنه اوکړې يا د ټولو مسلمانانو بخښنه اوکړې'' جائِز دي. (ص۱۰۲) ﴿۱۴﴾ خپل ځان او خپلو دوستانو يارانو او د خپل کور کسانو او خپل مال او اولاد ته دِ ښيرے نه کوي، څه معلومه ده که د قبليدو وخت وي او د ښيرو اثر ښکاره شي او بيا پښيمانه وي. (ص۱۰۷) ﴿۱۵﴾ څه څيز چې ورسره موجود وي د هغې دُعا دِ نه کوي، مَثَلًا نارينه دِ دا دُعا نه کوي چې ''يا الله پاکه ما نارينه کړې'' ځکه چې دا اِستِهزاء (يعني ټوقې کول) دي. البتَّه داسې دُعا کول چې په هغې کښېي د شريعت په يو حُکم باندې عمل اوشي يا پکښېي خپله عاجزي او بندګي ښکاره کړے شي يا پکښېي د الله پاک او د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم سره محبَّت يا د دِين يا ديندارو طرف ته د رَغبَت يا د کُفر او کُفّارو نه د نَفرت وغيره فائِدے راځيږي نو هغه جائِز دي اګرچه دا امر[يعني څيز] يقيني طور حاصِل هم وي لکه دُرُود شريف لوَستل، د وسيلے، د صراطِ مُستَقِيم او د الله ورسول عَزَّوَجَلَّ وصَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم د دُښمنانو خلاف د غضب او لعنت دُعا کول.(ص۱۰۸، ۱۰۹) ﴿۱۶﴾ په دُعا کښېي دِ تنګي نه کوي يعني داسې دُعا دِ نه کوي چې يا الله پاکه! صرف په ما باندې رحم اوکړې يا صرف ما ته او زما فلانکي فلانکي دوست ته نِعمَتونه راکړې. (ص۱۰۹) بهتره دا ده چې ټول مُسلمانان په دُعا کښېي شريك کړے شي، د دې يوه فائِده به دا هم وي چې که دا پخپله د دې نيکې خبرې حقدار نه وي نو هُم د نيکو مسلمانانو په خاطِر به ده ته هُم نصيب شي. ﴿۱۷﴾ حُجَّةُ الْاِسلام اِمام محمّد غزالي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: د مضبوطې عقيدے سره دِ دُعا کوي او د قبليدو يقين دِ ساتي. (اِحياءُ الْعُلوم، ج۴، ص۷۷۰)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## نيك او لمونځ گزاره جوړېدو د پاره

هر زيارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ځائے کښې کيدونکي د **دعوتِ اِسلامي** د سُنّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نيتونو سره توله شپه تېروئ ❁ د سُنّتو د تربيَت د پاره **مَدَني قافلو** کښې عاشقانِ رسُول سره هره مياشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "**فِکرِ مَدينه**" په ذريعه د **مَدَني اِنعاماتو** رساله ډکوئ او د هرې مَدَني مياشتې په يکم تاريخ ئې د خپل ځائے ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

زما مَدَني مقصد: "**ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي.**" اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره په "**مَدَني انعاماتو**" عمل او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "**مَدَني قافلو**" کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ








فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډئ، بابُ المدينه (کراچئ)

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com